پو هاندزیار

# د یاد ګار په پښوکې

ژیړ پاڼرېژ مې د بهار په پښو کې رژي
توره شپه مې د سهار په پښو کې رژي

توري دربلي د نانځرو د ما ښامو مې
د رڼو سپېدو سپېدار په پښو کې رژي

دا له برم د پښتني ميني وربل مې
سنبل څڼې د ګلزار په پښو کې رژي

د رنجکاڼو پر ځای کاڼي د اسمان مې
د پيغلو تو د سينګار په پښو کې رژي

ګرد دښنه  مې نزرمات ته د ښايست به
لکه سپانده د انګار په پښوکې رژي

ټول د جنګ، جنا يت، جهل اسمانځک به
د ننګ پت وياړلي ښار په پښوکې رژي

بلهاري به مې د ميني کړي تلپاتي
که مې ژوند اوس د ناتار په پښو کې رژي

نه چي خاورې شي يو ځای راسره ګورکې
ارمانونه مې د دار په پښو کې رژي

په نمانځنه کې د تلين هر پسرلی به،
سره غاټول مې د ياد ګار په پښو کې رژي !
د مى لومړى٦ ۲۰۰

www.ayenda.org